۵۹

# ملي هیلي

اونیزه

هفته نامه

د ولس ریښتیني هیلي

شپږم کال

د ۱۳۹٦ لمریز کال د لیندۍ (قوس) د میاشتي لومړۍ نېټه



درنو هېوادوالو !

ناپوی انسان ړوند او پوی انسان بینا دی دا خبره مې ځکه وکړه چې د زده کړیال(محصل) ورځ وه په پیل کې ټولو هغو زده کړیالانو ته د زده کړیالانو د ورځې مبارکي وایم چې همدا شیبه په پوهنتونو کې د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا زده کړې تر سره کوي، تاسې ریښتیني اتلان یاستئ او زمونږ سترګې تاسو ته دي په دې هیله چې په خپلو زده کړو زمونږ دا تیاره ټولنه رڼا ته راکش کړئ او له تیارو څخه مو دباندې کړئ.

په درنښت
الحاج محمداکبر ستانکزی
په ولسي جرګه کې د لوګر ولایت استازی



## له ولسمشر څخه د خپل کلي سړک هیر شوی

څو میاشتې دمخه ولسمشر د لوګر په محمدآغې ولسوالۍ کې خپل پلرنی کلي ته د شاوخوا لس کیلومتره سړک د پخولو په پار د تدارکاتو د کمیسیون لخوا د پروژې د پیل خبر ورکړ. د کابل په ۴۰ کیلومترۍ سویلي غاړه کې له کندهاریو پله ترسرخاب کلي دا سړک پرداسې دښته تیریږي چې ۱۵ کاله وړاندې پرې یوه بل ولسمشر ( حامد کرزي) د کابل د ملکي لوی نړیوال هوایي ډګر د جوړیدو پلانونه رامخې ته کړل. د هیر شوي ډګر په څیر له اوسني ولسمشر څخه هم د خپل کلي د سړک د جوړیدو کیسه هیره بریښي. له پرانیستې یې څومیاشتې تیرې شوې، خود پروژې د ۵ انجینرانو او کارکونکو له تښتول کیدو او بیرته خوشې کیدو سره د افغانستان د نورو ډیرو پروژو په څیر د ولسمشر د کلي د سړک کیسه هم همغې هیرې شوې کندې ته غورځیدلې. خوتازه اورم، چې اوس د دولت په نوم کلا دښته کې چې د ولسمشر غني کلي ته ترې جوړیدونکی سړک تیریږي دهمغه هیرشوي او پلان شوي هوایي ډګر د جوړیدو پلانونه او ارزونې له سره پیل شویدي، چې فکر کیږي یوه ورځ به د پلازمینې دا سویلي سیمه د کابل په نوم د یوه لوی او پرمختللي هوایي ډګر او اقتصادي راکړې ورکړې سیمه وي... پاتې ۲ مخ



## قرارداد سکشن دوم سرک کابل – لوگر به امضا رسید

قرارداد ساختمان سرک کابل - لوگر سکشن دوم لین دوم از ولسوالی محمدآغه الی شهر پل علم به تاریخ ۱۷ ماه عقرب سال جاری در حضورداشت الحاج محمداکبر "ستانکزی" نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی ، سرور "دانش" معاون دوم ریاست جمهوری ، داکتر محمدآصف "صدیقی" معاون دوم مشرانو جرگه ، یما "یاری" وزیر فوایدعامه و حمید "طهماسی" وزیر ترانسپورت به امضا رسید. در خبرنامه ی که از سوی وزارت فواید عامه کشور پخش شده آمده است که ساختمان سرک کابل الی لوگر سکشن دوم لین دوم به طول ۲۴ کیلومتر به صورت اسفالت به مدت ۱۸ ماه تکمیل خواهد گردید. اعلامیه می افزاید که این قرارداد به ارزش مجموعی ۷۸۲ میلیون افغانی با شرکت ساختمانی یونایتید انفرسترکچر امضا گردید.

## د لوګر ولایتي شورا د اداري پلاوي کلنۍ ټاکنې ترسره شوې

په هغه غونډه کې چې د شنبې په ورځ د لړم د میاشتې په ۲۷ نیټه د ولایتي شورا په تالار کې جوړه شوې وه په کې د لوګر مرستیال والي قمرالدین شکیب،امنیه قومندان لوی پاسوال عصمت الله علیزي،د مدني ټولنې غړو،



ژورنالیستانو او په لوګر کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون مسؤلینو ګډون کړی وو. ددغې ټاکنې په پایله کې حسیب الله ستانکزی د رئیس،ډاکټر عبدالولي وکیل د مرستیال او عدالت عمر عبدالرحیمزی د منشي په توګه و ټاکل شول. د لوګر د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مسؤلینو په خبره یادې ټاکنې یې د ځانګړي طرزالعمل له مخې ترسره کړې چې په وینایې د ریاست څوکۍ لپاره سیدقریب الله سادات او حسیب الله ستانکزی نوماند ول چې قریب الله سادات و نه شو کولای یادې ... پاتې ۲ مخ

## خوست قهرمان ششمین دور رقابت‌های انتخاباتی تیم ملی کبدی کشور شد



در محفل پایان این رقابت‌ها که بتاریخ ۲۰ عقرب سال ۱۳۹۶ در میدان سبز لیسه عالی حبیبیه دایر شده بود برعلاوه ی الحاج محمد اکبر ستانکزی نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی،داکتر میرویس بهاوی معاون فنی و مسلکی ریاست عمومی تربیت بدنی وورزش،عبدالحکیم منیب معین وزارت حج و اوقاف،دگرجنرال محمداسلم مسعود،عده ی از وکلای شورای ملی وولایتی،جوانان وورزش دوستان اشتراک ورزیده بودند... ادامه صفحه ۲

## ستانکزی : جوانان در جامعه نقش اساسی را دارا بوده و تعین کننده امور می باشند



الحاج محمد اکبر ستانکزی نماینده منتخب مردم لوگر در شورای ملی بتاریخ ۱۷ ماه عقرب سال جاری جهت تبریکی و شریک ساختن تجارب با دو جوان تازه گماشته شده لوگر به دفاتر کاری آنان رفته و جوانان را نیروی فعال جامعه یاد نمود. ستانکزی گفت که در جوامع انسانی از جوانان به عنوان ستون فقرات جامعه، نیروی ذخیروی آینده و گنجینه ملی جامعه یاد کرده میتوانیم و به این دوجوان توصیه نمود تا مصدر خدمت به هموطنان خویش گردند که جوامع انسانی مشتاق به سرمایه گذاری بالای این قشر جوان می باشد. قابل ذکر است که احمدخالد حسین خیل بحیث مشاور حقوقی ریاست عمومی عملیاتی معینیت محافظت عامه و انجنیر حمیدالله سنگر بحیث سرپرست ریاست ناحیه پنجم شاروالی کابل درین اواخر تقرر حاصل نموده اند که ستانکزی برعلاوه ی تبریکی موفقیت های روز افزون بیشتر را برای آنان خواهان شد.

رامین "عباسی"

## لوګر کې ژورنالیستانو په شمشاد راډیو تلویزیون وسلوال برید وغانده

د لوګر د ژورنالیستانو د خپلواکې ټولنې لخوا چې (په شمشاد برید د بیان په آزادۍ برید دی)شعارونه یې لاس کې وه په شمشاد راډیو تلویزیون شوی تروریستي برید په سختو ټکو سره وغانده او د پېښې شهیدانو ته د فردوس جنت او ټپیانو ته د بیړنۍ روغتیا هیله وکړه. ناسته چې د لوګر په محلي راډیو مهال په انګړ کې ترسره شوه پکې د اطلاعاتو او کلتور ریس محمد



شفیق پوپل ولایت ویاند سلیم صالح لوګر د خپلواکو ژورنالیسانو د ټولنې مشر نورالله ستانکزی ددفاع کمیټې مشر مطیع الله سرور مهال راډیو مشر ذاهدالله حسین خیل... پاتې ۲ مخ

کوثر
KAWSAR
KENGINEERING





شرکت انجینری کوثر
KAWSAR ENGINEERRING PVT LTD





تولید کننده پایپ های پی وی سی، پی وی سی فتنگ، پی پی آر سی پایپ
پی پی آر سی فتنگ، اچ دی ای پی پایپ و پمپ های دستی با استندرد بین المللی
آدرس فابریکه: بگرامی، متصل تانگ تیل یوسفزی، کابل
شماره تماس: 0777-479999 - 0799-855512 - 0777-323424

## له ولسمشر څخه د خپل كلي سړک ...

له ستراتيژيک اړخه دغه لويه هواره سيمه نه يوازې د كابل لپاره مهمه ده بلكې د عينک د مسو د لوی كان په سويل لوييديځ لس كيلومترۍ كې پرته ده ، چې لس كاله وړاندې د هيرشوي جوړيدونكي هوايي ډګر په څير ددې سترې پروژې چارو ته هم هغه مهال ښه ډول وډنګيده. چينايان په خپله مخه ولاړل ، عينک د لسګونو بې كوره شويو خلكو او تر ۱۵۰۰ پورې پوليسو دخاص كنډک په ځاله بدل شو ، چې ويل كيږي هره ورځ يې لګښت يو نيم ميليون افغانيو ته رسيږي. دا لګښت له تيرو لسو كلونو راهيسې روان دی ، چې د پوليسو پر دغه كنډک او سيمه شوی لس كلن لګښت شاوخوا ۴ ميلیارده افغانيو(شاوخوا ۷۰ ميليون ډالرو) ته رسيږي. تمه وه ، چې په عينک كان تر۸ ميليارد ډالرو لګښت شوی وای ، او افغانستان يې د استخراج له دركه په ۲۰۱۲ او كه ۱۳ كې تر ۵۰۰ ميليون ډالرو كلنۍ ګټه جارې شوې وای. په سيمه كې د لرغونو توكواو سيمې موندل كيدو ددغه كان كارونه لس كاله وځنډول ، چې يو له بله ارزښتمن بلل كيږي. حكومت بايد ددغو ۲ ارزښتمنو توكو د خوندي كيدو او ګټې پورته كيدو چاره لا د مخه حل كړې وای. پر كان د كار د نه كيدو په ټس كې د ختيځ او شمال د اورګاډي ، له ډبرو سكرو د ۴۰۰ ميګاواټه بريښنا د توليد او دغلته د كانونو د يوه لوی پوهنتون د جوړيدو درک له خلكو او حكومته په هيريدو دی.

**عبدالمالک "عاصم"**

## خوست قهرمان ششمين دور رقابت‌های ...

احمدفردين ضيايى بنيانگذار و ريس فدراسيون ملى كبدى افغانستان به هفته نامه ملي هيلي گفت كه در اين مسابقات هرات دوم ، فراه سوم وميدان وردک به جايگاه چهارم ايستادند. آقاى ضيايى افزود كه درين دور رقابت ها از ۱۰ ولايت كشور ۱۲۰ تن ورزشكار اشتراک ورزيده بودند و درپايان اين رقابت‌ها سى و شش چهره برتر از سوى كادرى فنى برگذارى اين رقابت‌ها به تيم ملى كبدى كشور برگزيده شدند. او هدف اين مسابقات را شناسايى چهره هاى برتر در ورزش كبدى عنوان كرده و افزود كه اكنون با گذشت زمان اين ورزش علاقمندان زيادى را به خود جلب كرده است و در ۱۸ ولايت كشور فدراسيون ملى كبدى نمايندگى رسمى دارد. در پايان ششمين دور مسابقات كبدى دايروى لوح سپاس به الحاج محمداكبر ستانكزى نماينده منتخب مردم لوگر در شوراى ملى بمنظور حمايت از ورزشكاران اهداء گرديد. قابل ذكر است كه فدراسيون ملى كبدى در سال ۱۳۸۸ در چوكات رياست عمومى تربيت بدنى شامل شد و فعاليت هاى اين فدراسيون روز به روز بيشتر شده و علاقمندان خاص را درين بخش دارا مى باشد.

**مطيع الله "سرور"**

## د لوګر ولايتي شورا د اداري پلاوي ...

ځوكۍ ته لاره پيداكړي. همدارنګه د مرستيالۍ څوكۍ لپاره محمد ناصر غيرت او عبدالولي وكيل نوماندان ول چې محمد ناصر غيرت ونه شو كولای دغې څوكۍ ته لار ومومي. دغه راز د منشي توب څوكۍ لپاره هما احمدي او عدالت عبدالرحيمزی نوماندان ول چې هُما احمدي ونه شو كړای بريالۍ شي او د منشي توب څوكۍ ترلاسه كړي. د لوګر د ولايتي شورا نوي رئيس حسيب الله ستانكزي خبريالانو ته وويل چې يادې ټاكنې د هيڅ كوم لوري له فشار پرته په ښه بڼه ترسره شوې او زياته يې كړه چې د لوګري ولس د حقه حقونو د لاسته راوړلو په برخه كې به له نورو وكيلانو سره په همغږۍ نه ستړې كيدونكې هلې ځلې كوي. د لوګر مرستيال والي قمرالدين شكيب د پخواني اداري هئيت كړنې وستايلې او نوي ټيم ته يې په چاروكې د بريالیتوب غوښتنه وكړه. د ويلو ده چې په تيره يو كلنه دوره كې محمد ناصر غيرت د رئيس ، هما احمدي د مرستيالې او عدالت عبدالرحميزی د منشي په توګه ټاكل شوي وو.

**شفيع الله "افغانزی"**

## لوګر كې ژورناليستانو په شمشاد راډيو تلويزيون ...

دوی د لږم په وولسمه ورځ په مركز پل علم كې د يوې ناستې په ترڅ كې وويل چې ، پر شمشاد بريد به د خلكو غږ لا پياوړی كړي او رسنۍ به په خپلو چاروكې لاهم پاينښت ومومي. د لوګر خپلواكو ژورناليستانو ټولنې د خونديتوب كميټې مسؤل مطيع الله سرور وويل چې ، دا ډول بريدونه به د دوی مخه ونه نيسي او په هر ډول شرايطو كې به خپلې دندې ته په ريښتيني ډول ژمن پاتې شي او د حقايقو په رابرسيره كولو كې به د ولسونو حقه حقونو ته انعكاس وركړي. د لوګر د خپلواكو خبريالانو ټولنې مشر نورالله ستانكزي وويل چې ، دولت دې د رسنيو او خبريالانو خونديتوب ته پاملرنه زياته كړي او پر وړاندې دې شته ستونزې هوارې كړي. ستانكزی وايي چې ، پر شمشاد راډيو ټلويزيون د تيرې ورځې بريد دوی سخت اندېښمن كړي او دا بريد نه يوازې پر شمشاد ؛ بلكې د بيان پر آزادۍ بريد دی. د لوګر د اطلاعات او فرهنګ رئيس محمد شفيق پوپل او د ولايت مقام مطبوعاتي مسؤل سليم صالح ، پر شمشاد راډيو ټلوېزيون شوی بريد پر كلكو ټكو وغانده او دا پېښه يې جنګي جنايت ياد كړ. دوی زياته كړه ، چې په شمشاد بريد په اسلاميت,افغانيت او انسانيت بريد دی,چې د بيان ازدۍ دښمنان په هېواد كې د رسنيو بريا نه شي زغملی. په رسنيو وسلوال بريدونه د خبريالانو روحيه لا پياوړې كوي او د تروريستي بريدونو پروړاندې به هيڅكله تسليم نه شي. دوی ټينګار وكړ چې ، ترهګر له دغه بريد سره نه شي كولای د خلكو د ازادۍ غوښتنې غږ چوپ كړي. لوګر ميشت خبريالان وايي چې ، دا ډول بريدونه به د دوی مخه ونه نيسي او په هر ډول شرايطو كې به خپلې دندې ته دوام وركړي ، تر څو د دوی په خبره د ولسو نو له حقه حقونو څخه يې د دفاع ترڅنګ د دوی د ستونزو په هوارۍ كې يې مرسته كړې وي. دوی له دولت څخه و غوښتل چې د داډول بريدونو د مخنيوي په برخه كې جدي پاملرنه وكړي او د خبريالانو پروړاندې د هر ډول ننګونو په له منځه وړلو كې اغيزمن رول ولوبوي. د ويلو ده چې د لږم پر شپاړسمه نيټه شاو خوا لس بجې په شمشاد راډيو تلويزيون وسلوال بريد وشو ، چې له امله يې يوتن شهيد او ۲۲ تنه نور ټپيان شول او دغه بريد په هېواد او بهركې د بېلابېلو بنسټونو له لوري په كلكو ټكو سره وغندل شو.

**LMC**

# په لوګـر كې قومي مشـران او سـپين ږيـري په دغـه ولايت كـې د غير مسـؤله وسـلوالو له شـتون څخه سـر ټكوي



د لوګر ولايت قومي مشران او مخور وايي، دوی تل هڅه كړې د جرګو او مركو له لارې د خلكو شخړې او ستونزې هوارې كړي، او د خلكو او دولت تر منځ د ارتباط د وسيلې په توګه رول ولوبوي. د دغه ولايت يو تن قومي مشر ملک سرور وايي، په لوګر كې غير مسؤله وسلوال د وسلو په واسطه مخور او مشران ګواښي او ستونزې ورته جوړوي. ملک سرور وايي، څو ځله يې په دغه ولايت د غير مسؤله وسلوالو په اړه له امنيتي مسؤلينو سره خبره شريكه كړې مګر چا يې غږ ندی اورېدلی.

په افغاني ټولنه كې قومي مشران او مخور د خلكو په منځ كې له ډېر باور څخه برخمن دي، دغه مشران يوازيني كسان دي چې عام خلک پرې راټولېږي. د لوګر يو تن اوسيدونكی شمس الحق زهير وايي، دا چې قومي مخور اكثره وخت د خلكو د ستونزو په حل كولو كې تېروي نو دولت هم بايد د قومي مشرانو د امنيت په خوندي كولو كې له خپلو ټولو امكاناتو كار واخلي . د لوګر د ولايتي شورا غړی عدالت عبدالرحيمزی وايي د غير مسؤله وسلوال شتون په ټولنه كې د ګډوډۍ لامل كېږي او له مسؤلينو غوښتنه كوي چې مخه يې ونيسي.

د لوګر امنيه قومندان لوی پاسوال عصمت الله عليزی وايي، په لوګر كې هيڅ غير مسؤل وسلوال فعاليت نه كوي او كه داسې كوم څوک ووينې چې په غير قانوني ډول وسله وګرځوي دوی به قانوني چلند ورسره وكړي.

عليزی وايي، په دغه ولايت كې د قومي مشرانو د فعاليت لپاره زمينه برابره ده او امنيتي ځواكونه تل هڅه كوي چې پدغه ولايت كې قومي مشرانو او مخورو ته د ژوند آرامه فضا رامنځته كړي. لوګر كې هم د نورو ولايتونو په څېر ډېرى خلک خپلې پرېكړې د قومي شورا ګانو او كليوالو جوړښتونو په واسطه ترسره كوي، خو په تېرو كلونو كې ناسم امنيتي وضعيت د دې لامل شوی چې قومي مشران خپل فعاليتونه راكم او له خلكو لېرې پاتې شي.

**حكمت الله "واقد"**

# لوګر كې يو شمير ښاريان د ضرورت د رفع كولو لپاره د سړک له څنډو كار اخلي

د لوګر ولايت يو شمير ښاريان وايي چې ځينې كسان د حاجت د رفع كولو لپاره د سركونو تفريحی پاركونو او ديوالونو له څنګ څخه كار اخلی د هغوی په وينا چې دا ډول كړنې د ښار نظم خراب بد بوی او كثافات را مينځ ته كوي چې ډيری خلک ورڅخه زوريږي او له امله يې زيات شمير كسان په بيلابيلو ناروغيو اخته كيږي. دا ډول كړنو ګڼ شمير ښاريان له ډيرو ستونزو سره مخ كړي او ددوی په وينا د دا ډول كړنو د مخنيوي په موخه هره ورځ له ډيری كسانو سره لاس او ګريوان وي او نشي كولای چې مخه يې ونيسي. د پل علم دوه تنه ښاريانو ملي هيلې سره په خبرو كې وويل چې بد بختانه يو شمير خلک ښاري فرهنګ په نظر كې نه نيسي ددې پر ځای چې د ضرورت د رفع كولو لپاره د ښار دننه له جوړو شويو تشنابونه څخه كار واخلي د پاركونو ، سركونو او ديوالونو له څنګ څخه كار اخلي . د پل علم دوه تنه ښاريان نذير احمد او نورالرحمن په دې تړاو له ملي هيلې سره په خبرو كې خپل **نظرونه داسې څرګندوی:** « زما نوم نذيز احمد دی د لوګر ولايت اوسيدونكی يم د پادخواب اډې ته څيرمه د ځيګر پلورنځی لرم باور مو وشه زه هر وخت خلكو ته وايم چې د ضرورت د رفع كولو لپاره له دې ځای څخه استفاده مه كوی خو بياهم خلک د رفع حاجت لپاره د سركونو له څنګ نه استفاده كوي او زمونږ خبره نه مني بله داچې د ښاروالي رياست هم په دې برخه كې به پامي كوي. زما نوم نورالرحمن دی د پادخواب شانې او سيدونكی يم د روژې د مياشتې را پديخوا د لته چپلكې پلورم د ونو لاندې خلک د رفع حاجت د پاره ځې مونږ يې په خپلو سترګو وينو او په هر يو باندې غږ كوو چې دلته د رفع حاجت د پاره مه كښينې لاړ شۍ له تشنابونو څخه استفاده وكړئ په تشناب كې پنځه افغانی اخلي هره ورځ دلته له خلكو سره زمونږ شخړه وي » دوی له دولت څخه غوښتنه كوي چې د ښاري فرهنګ په عاميدو او د ښارپاكوالي په برخه كې جدي پاملرنه وكړي اوهمدا راز دوی زياتوي چې د ياد ولايت د ښاروالۍ رياست بايد وخت نا وخته له ښار څخه كتنه او څارنه و كړي او هغه ځايونه چې د خلكو له خوا په كثافت داني بدل شوي هغه دې د ښاروالۍ رياست په ځانګړې پاكونكي ټيم پاک او ښار يانو ته دې په دې برخه كې عامه پوهاوی وركړي هغوی همدا راز له خلكو څخه وغوښتل چې په دې برخه كې له دولت او د ښاروالۍ له كار كوونكو سره همكاري وكړي. د لوګر ښاروال نصير احمد لليزی بيا د ښار پاک ساتنه د ښاريانو دنده بولي او زياتوي چې د لوګر ښاروالی رياست او كاركوونكو هر وخت د ښار د پاكوالي په برخه كې خپل مسوليتونه او دنده په سم ډول تر سره كړې دي. لليزی زياتوي چې د لوګر ښاروالی رياست ددې ستونزو د حل لپاره لس تشنابونه رغولي خو خلک د ځان آسانی لپاره له يادو تشنابونو ګټه نه اخلي بلكې دديوالونو له څنګونو ، سركونو له څنډو او تفريحي پاركونو څخه استفاده كوي. هغه همدا راز زياته كړه چې ښار نه د څارنې ، ښاركې د كثافاتو بې ځايه غورځولو او د رفع حاجت په خاطر د ښاريانو د بيځايه كيناستلو د حل په موخه د ښاروالی رياست سيار ټيم لري چې ياد ټيم هره ورځ دهټيوالو او كورنيو ستونزې ټولوي چې هره ستونزه په اداري ناسته كې مطرح او په حل لارو يې خبرې كيږي. دا په داسې حال كې ده چې نه يوازې په لوګر بلكې په پلازمينې كابل او دهيواد په نورو ولايتونو كې هم دا ډول كړنو خلک له ګڼو ستونزو سره لاس او ګريوان كړي دي.

**خان آغا "سيال"**



# په لوګر کې د ۲۶ ښوونځیو د ترمیم چارې ښې روانې دي

د لوګر په مرکز او ولسواليو کې د ۲۶ بيلا بيلو ښوونځيو د ودانيو د ترميمولو چارې ښه په درز سره روانې دي. ياد ښوونځي د پوهنې وزارت د پراختيايي بودجې له لارې په اساسي ډول د لس ميليونه درې سوه زره افغانيو په لګښت بيا رغول کيږي. د دې ښوونځيو له جملې څخه ۱۳ په مرکز ۴، په بره کي برک، ۵ په محمدآغې، ۲ په خروار، ۱ په خوشۍ او ۱ بل په څرخ ولسواليو کې دي. د يادو



ښوونځيو د ترميمولو چارې له شاوخوا يوې مياشتې راپديخوا ښه په درز سره روانې دي او۵۵ سلنه چارې يې پرمخ تللي دي. د دغو ښوونځيو ټولو برخو ته نوی آسماني رنګ ورکول کيږي اوهم د ودانيو ويجاړې شوې ورې برخې بيا ترميميږي. يادې ټولې چارې د پروپوزل مطابق ترسره کيږي او هم د ټولو ښوونځيو د ترميمولو پر چاره تل د انجينرانو څارنه موجوده وي.

محمدشاپور "عرب"

# د ښې حکومتولۍ تالار



د شنبې په سهار ۸ نيمې بجې د لوګر ولايت مقام په لوري وخوځېدم ، هلته د ښې حکومتولۍ په تالار مې سترګې ولګېدې ، چې څو کسان يې په انتظار خونه کې لاس په نامه ولاړ وو ، تالار ته په ورننېږدې کېدو مې د ملي سرود غږ واورېد ، دننه ورغلم ، هلته هم د ولايت مقام ټول اداري کارکوونکي د والي په ګډون ملي سرود اورېدو ته لاس په نامه ولاړ وو. د ملي سرود له پای ته رسېدو سره سم دلته يوه کاري ورځ پيل شوه ، د لوګر ولايت مقام ټول کارکوونکي تر يوه چتر لاندې خپل چارې سمبالوي او ولس ته خدمتونه وړاندې کوي. د محمد طاهر په نامه يو کس له برکي برک ولسوالۍ نه راغلی وو ، په لاس کې يوه عريضه وه ، ترې ومې پوښتل چې د څه لپاره راغلی ، محمد طاهر په ډېره خوشۍ په خبرو پيل وکړ. زه ډېر وخت وروسته ولايت مقام ته راغلم ، دلته ډېر تغيرات راغلي ، پخوا به دلته يوې عريضې ته څو ورځې منتظر وم ، يو ځل به والي صاحب ته ورتلم ، بيا به مدير ته ورتلم ، کله به يې راته ويل عريضه دې پرېږده دوه ورځې وروسته راشه ، هغه وخت به موږ ډېر ستړي کېدو شعبه په شعبه ګرځېدو ، اوس مې د يوه شهيد عريضه راوړې وه ، په شل دقيقو کې مې کار خلاص شو. د تالار په وروستۍ برخه کې د لوګر والي محمد حليم فدايي او څنګ ته مرستيال والي قمرالدين شکېب ناست وو ، تر ورغبږ وروسته والي ته مخامخ کېناستم ، د والي مېز داسې ځای اېښودل شوی وو چې ټول تالار ترې مالومېدو او نوموړي ټول کار کوونکي څارلی شوای. له ښاغلي فدايي نه مې د تالار په اړه وپوښتل ، والي وويل ، په پخواني ډول حکومتولي نوره خلکو ته او هم دولتي مامورينو ته ستړې کوونکې وه ، دلته په ټولو ادارو کې ګډوډي او اوږده بېروکراسي موجوده وه ، ډېری کارونه په ډېر ځنډ خلاصېدل ، همدا لامل وو چې د خلکو باور په دولتي ادارو ورځ په ورځ کم شوی وو ، نو ځکه ما وپتېيله چې بايد په داسې يو ډول خلکو ته خدمتونه وړاندې کړو چې هم مراجعين خوښ وي او هم اداري کار کوونکي. فدايي زياته کړه ، په افغانستان کې په لومړي ځل داسې يو نوښت رامنځته کېږي ، دا ټول په خپلو امکاناتو جوړ شوی ، زموږ موخه داده چې ولس ته ريښتوني او شفاف خدمات وړاندې کړو ، په ياد تالار تر اوسه ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ لګښت راغلی ، که څه هم د ياد تالار مادي لګښت لږ دی مګر معنوي لحاظ ډېرې ارزښت لري. فدايي ، وړاندې وويل ، زموږ بل نوښت دا دی چې بايد هره کاري ورځ ټول مامورين د هېواد په ملي سرود پيل کړي ، نو دا نوښت هغه څه دي چې تر اوسه په افغانستان کې بل چا نه وو رامنځته کړي. د ښې حکومتولۍ تالار په لوګر ولايت مقام کې نوی جوړ شوی چې د چارواکو په خبره موخه يې په نوي او عصري ډول ولس ته د خدمتونو وړاندې کول دي.

حکمت الله "واقد"

# آبسه دندان چیست؟



نوشته ی دوکتورس عطیه خواجه عمری

آبسه دندان چرک (قیح) است که در ریشه دندان جمع شده و باعث عفونی شدن دندان میشود. گسترش آن در دهن از پوسیدگی های کوچک موجود در دندان ها آغاز میشود. آبسه دندان ممکن است به خاطر ضربه خوردن (تروما) و آسیب دیدن یک دندان نیز ایجاد میشود. اما بنا بر هر علتی که ایجاد شود منجر به تشکیل پندیدگی (تورم) در داخل یا خارج دهن خواهد شد.

**علت بوجود آمدن آبسه چیست ؟**

آبسه دندان هنگامی ایجاد میشود که باکتریا ها به مغز دندان (پولپا) وارد میشود مغز دندان داخلی ترین لایه دندان است که از یک نسج نرم حاوی رگ های خون ، عصب و نسج منظم تشکیل شده است باکتریاها از راه پوسیدگی ها یا شکستگی و ترک های موجود بر روی دندان بداخل آن وارد شده و خود را به ریشه دندان میرساند. عفونت باکتریایی باعث بروز پندیدگی و التهاب در محل دهن و دندان میشود چرک (قیح) حاصل از عفونت از طریق فضای تنگی که التهاب در داخل آن تشکیل میشود بداخل یک کیسه در انتها ریشه دندان تجمع نموده و آبسه را تشکیل میدهد.

**علایم و نشانه ها**

علایم معمولا چیزی است که توسط مریض احساس شده گزارش میشود. نشانه چیزی است که توسط سایر افراد مانند داکتر شناسایی میشود.

**معمول ترین علایم آبسه**

- درد دندان که با شدت زیاد و بطور دوامدار وجود دارد.
- خارج شدن چرک از داخل دندان.
- احساس درد در هنگام جویدن غذا.
- حساس شدن دندان در مقابل گرمی و سردی.
- موجودیت مزه تلخ در دهن.
- بوی بد دهن.
- تب احتمالی.
- ناراحتی عمومی.
- پندیدگی ناحیه عفونی یک نشانه بسیار جدی و خطر ناک است.

**تداوی!**

در صورت تداوی نشدن به موقع میتواند به تدریج به فضا های عمقی یا نواحی عمق و حتا مغز راه پیدا کرده و سبب بندش راه تنفسی درگیری مغز و درگیری خون حتا مرگ میشود. هنگام مشاهده کردن نوع علایم یا نشانه از آبسه دندان لازم است هر چی زود نزد متخصص دندان مراجعه نموده تا تداوی لازم صورت گرفته و از عوارض بعدی جلوگیری شود.

**عوارض!**

آبسه دندان بدون تداوی لازم امکان بهبود ندارد اگر آبسه ایجاد شده دچار پاره گی شود درد مریض ممکن کاهش یافته اما باز هم مریض جهت تداوی لازم به نزد متخصص دندان مراجعه نموده تا تداوی مناسب برای بهبود آبسه صورت گیرد.

**جلوگیری!**

برای جلوگیری از بروز آبسه ، جلوگیری از پوسیدگی دندان اهمیت بسیار زیاد دارد و مهمترین نکته برای جلوگیری از پوسیدگی دندان مراقبت خوب و رعایت حفظ الصحه دهن و دندان است.
مواردیکه باید رعایت شود .

- نوشیدن آب حاوی فلور.
- مسواک زدن و نخ کشیدن دندان ها خیلی مهم است.





# په لوګر کې د ځوانانو تر نامه لاندې د کرکټ سیالۍ پای ته ورسېدې

د لوګر د کرکټ آمريت لخوا په لاره اچول شوو شل آوريزو سياليو کې د لوګر اتو مشهورو کرکټ لوبډلو برخه اخيستې وه چې پايلوبې ته دوه پياوړې لوبډلې عمران وطنوال او ياسرکرکټ لوبډلې وتلې وې. د شنبې په ورځ د لړم د مياشتې په ۲۷ نېټه ترسره شوې پايلوبه کې د عمران وطنوال کرکټ کلب ټاس يا پچه وګټله او خپله يې د توپ وهنې پرېکړه وکړه چې عمران وطنوال کرکټ لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ياسر کرکټ کلب ته ۲۱۵ منډې لوړ هدف وټاکه چې د عمران وطنوال کرکټ لوبډلې لپاره د توپ وهنې په برخه کې حکيم ۴۶ مجيب ۳۸ ستانه ګل ۳۶ او رحمت ۳۰ منډې وکړې. د ياسر کرکټ کلب لخوا د بالينګ په برخه کې حشمت ۳ بابر ۲ سميع او ذکي د مخالفې لوبډلې يو يو لوبغاړي وسوځول. خو ياسر کرکټ کلب ياد هدف ته په رسېدو کې پاتې راغله او ټوله لوبډله يې په ۱۵۵ منډو وسوځېده. د ياسر کرکټ کلب لپاره د توپ وهنې په برخه کې طالب جان ۴۷ عبدالولي احمدزي ۱۶ او مالک ۲۱ منډې جوړې کړې. د عمران وطنوال کرکټ لوبډلې لخوا په بالينګ کې عامر ۳ نعمت ۲ او روف ۲ د مخالفې لوبډلې لوبغاړي وسوځول.



همايون "وفا"

# د لوګر له یو شمېر ښوونځیو سره د خیمو مرسته وشوه



د لوګر ولايت د مرکز او ولسواليو له يو شمېر ودانۍ نه لرونکو ښوونځيو سره د ۸۰ خيمو مرسته وشوه. د لوګر د پوهنې رئيس ښاغلی انجينر محمد اکبر ستانکزی وايي، چې دغه خيمې درې ميليونه او اته شپيته زره افغانۍ ارزښت لري. د پوهنې رئيس وويل، چې دغه مرسته د دوی د غوښتنې له مخې د لوګر د کليو او پراختيا رياست کړې ده. ستانکزي زياته کړه، چې خيمې به هغو ښوونځيو ته ورکړل شي، چې ودانۍ نه لري او زده کوونکي يې تر شنه آسمان لاندې زده کړې کوي. د يادونې وړده، چې تردې وړاندې هم د لوګر له يو شمېر نورو ښوونځيو سره د مرسته کوونکو موسسو له لوري د خيمو مرستې شوې دي.

محمد شاپور "عرب"

Weekly MELLI HELLI
6th year | 22 November 2017

د امتیاز څښتن: باران میډیا ګروپ
مسوول مدیر: مطیع الله سرور
کتنپلاوي: سیداجان احمدزی او جاویدصدیقی
خبریالان: مصطفی خیراندیش ، محمد عارف ویسا ، نور محمدعابد
عبد الله عرب ، شمس الحق زهیر او رامین عباسی
چاپځای: سعادت مطبعه ، کابل
۰۷۹۶۰۵۹۰۰۹ - ۰۷۴۴۰۱۰۳۳۳
ملي هيلې / Facebook.com
melli_heliweekly@yahoo.com

به جز از سرمقاله مسولیت دیگر نوشته ها به نویسندگان آن بر میگردد.
ملي هيلې در ویرایش مطالب دست باز دارد.
ملي هيلې در بازتاب انتقادات ، پیشنهادات ، نظریات و طرح های سازنده و ملی ارج قایل است
آدرس در کابل: دارالامان روبروی شفاخانه کیور
آدرس در لوګر: جوار کمیسیون انتخابات رادیو پیوند ملی

## زمور د دولت بریا، زمور بریا ده! موفقیت دولت ما موفقیت ما است!







په کندوز ولایت کې د قابلګۍ د نوي روزنیز مرکز په پرانستل کېدو سره افغان دولت او نړیواله ټولنه په ګډه هڅې کوي چې د ټولو افغانانو روغتیايي وضعیت ښه شي. دا ډول مرستې په افغانستان کې د روغتیايي سکتور د پیاوړتیا لامل شوي دي. د دغه مرکز جوړول د دولت د هغو هڅو یوه برخه ده چې غواړي پر مټ یې د مور او ماشوم د مړینې کچه را ښکته کړي. زمور دولت هڅه کوي چې خپلو وګړو ته د سوکاله او له روغتیا څخه د ډک ژوند زمینه برابره کړي.

با گشایش مرکز آموزشی جدید قابلگی در ولایت کندز، دولت افغانستان و جامعه جهانی با هم سعی می نمایند تا وضعیت صحی تمام افغانها بهبود یابد. این گونه همکاری باعث تقویت سکتور صحی در افغانستان گردیده است. ایجاد این مرکز بخشی از تلاش ها جهت کاهش مرگ و میر مادران و نوزادان محسوب میگردد. دولت ما کوشش می نماید تا زمینه زندگی مرفه و با صحت هر چه بهتر را برای شهروندان خود تامین نماید.

شرکت تجارتی وساختمانی
فاروق ستانکزی



دفاروق ستانکزي
تجارتي او ساختماني شرکت
د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت وياړي چې د بیلا بیلو هیوادونو څخه د ډول ډول سمنټ ، قیر او د ساختماني ماشین آلاتو په واردولو سره د هیواد والو په خدمت کې دی.
د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت د کیفیت او معیار نمونه
الحاج محمد حبیب ستانکزي
د فاروق ستانکزي د تجارتي او ساختماني شرکت رئیس
پته: کابل بګرامی حسین خیل
اړیکشمېره ۰۷۴۷۲۲۲۲۴۹

## د فعالو ځوانانو ټولنه
## انجمن جوانان فعال
## Active Youths Society



جلسه شورای رهبری انجمن جوانان فعال روزپنجشنبه مورخ ۱۸ عقرب سال ۱۳۹۶ هجری شمسی تحت ریاست محترم الحاج محمد اکبر "ستانکزی" رئیس انجمن ووکیل منتخب مردم لوگر در ولسی جرگه دایر گردید جلسه با آیات کلام الله مجید توسط میرویس "شهاب" آغازگردید سپس صالح محمد"صدیقی" منشی دوم انجمن ضمن خوش آمدید به حاضرین مجلس اجندای جلسه را بخوانش گرفت و به تعقیب مسئولین کمیته های فرهنگی ومطبوعاتی ، علمی وارتقای ظرفیت ، مالی واداری ، سپورت وکمیته امور زنان پلان کاری وتشکیل کمیته های مربوطه را به جلسه ارائیه نمودند و متعاقباً اعضای دیگر انجمن باالنوبه غرض بهبود فعالیت های انجمن نیز صحبت نمودند. دراخیر الحاج محمد اکبر "ستانکزی"ضمن استماع نظریات و پلان کاری کمیته ها به مسئولین کمیته های متباقی وظیفه سپرد که تاجلسه بعدی پلان های کاری وتشکیل کمیته های مربوطه خویش را به جلسه ارائیه نمایند. طبق گزارش دیگر به روز پنجشنبه ۱۸ ماه عقرب سال ۱۳۹۶ نشست دوستانه اعضای انجمن جوانان فعال با الحاج همایون "همایون" معاون اول ولسی جرگه جمهوری اسلامی افغانستان دایر گردید. دراین نشست آقای همایون ضمن خوش آمدید جوانان رانیروی پرتحرک وقدرتمند یاد نمود وبه اتحاد واتفاق دعوت وازتمام ایشان خواست تادربرابر فساد دست به دست هم داده کشور ووطن خویش را ازاین بحران نجات دهیم. سپس الحاج محمد اکبر"ستانکزی" رئیس انجمن جوانان فعال ووکیل منتخب مردم لوگر درولسی جرگه ازافشا سازی مبنی بر فساد رئیس ورئیس دارالانشاء ولسی جرگه را توسط آقای همایون تقدیر کرد به تعقیب عبدالرحیم"واحدی" معاون انجمن واعضای دیگر نیز پیرامون موضوع صحبت نمودند .

**اداره انجمن**

برای نشر
اعلانات تجارتی تان
رادیو پیوندملی را انتخاب نمایید
بابیشترین شنونده
بهترین کیفیت
وبزرگترین پوشش نشراتی
ملي پیوند راډیو 98.7 MELLI PAIWAND RADIO 2014 ۱۳۹۳
Contacts:0786074740 /0700657587
Email Address : matiullah_sarwar@yahoo.com
Address for our Radio station: Pul e Alam,Logar, Afghanistan
in front of Independent Election commission